مجيب الرحمن ساپى

۲۰۱۲/۱۱/۱۳

# د پاکستان – هند سيالى او د سولې خبرې اترې

ولسمشر حامد کرزي هند ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه هېواد سوداګر او پانګوال يې په افغانستان کې پانګونې ته وهڅول. کرزي د هند د لومړي وزير من موهن‌سنګهـ په ګډون له لوړپوړو هندي چارواکو سره ليدنه وکړه. له لومړي وزير سره له ليدنې وروسته د بلاعوضه سل ميليون ډالرو مرستې يو هوکړه ليک د افغانستان د بهرنيو چارو له وزير ډاکټر زلمي رسول سره، د کانونو په برخه کې دوه هوکړه ليکونه د کانونو له وزير وحيد الله شهراني سره او د کلتور او ځوانانو چارو په برخه کې يو هوکړه ليک د اطلاعاتو او کولتور له وزير سيد مخدوم رهين سره لاسليک شو. د کرزي او سنګهـ په خبري غونډه کې د هند لومړي وزير په افغانستان کې له ترهګرۍ سره پر مبارزې ټينګار وکړ او د سولې له هڅو څخه يې خپل ملاتړ څرګند کړ.

پداسې حال کې، چې ولسمشر حامد کرزى هند ته په سفر تللى د سولې عالي شورا مشر صلاح الدين رباني او ورسره پلاوى يې تېره ورځ (دوشنبه ۱۳۹۱,۰۸,۲۲) اسلام آباد ته تللي دي. د دغه سفر موخه له وسله والو طالبانو سره د سولې خبرو اترو تر سره کېدل، په پاکستان کې له يو شمېر طالب بنديانو سره ليده کاته او د سولې له لړۍ څخه د پاکستان ملاتړ تر لاسه کول په ګوته شوي دي. د سولې عالي شورا مشر پاکستان ته له سفر وړاندې ولسي جرګې ته ويلي دي، چې دا ځل له بشپړ چمتووالي او د پاکستان همکارۍ په پام کې نيولو سره دغه هېواد ته سفر کوي. دغه سفر د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت په بلنه تر سره شوى دى.

د افغانستان، پاکستان او امريکا درې اړخيزه ناستې په ترڅ کې پرېکړه وشوه، چې د سولې عالي شورا لوړپوړى پلاوى به د روژې په مياشت کې پاکستان ته سفر کوي، څو د سولې خبرو اترو او هڅو څخه د پاکستان ملاتړ تر لاسه کړي؛ خو هغه مهال د پاکستان له لوري د بېلابېلو لاملونو له مخې لدغه سفر سره هوکړه و نه شوه. اوس مهال، چې له يوه لوري ولسمشر کرزى هند ته په سفر تللى او له بل لوري پاکستان د سولې عالي شورا پلاوي ته د سفر بلنه ورکړې دا پوښتنه رامنځ ته کېږي، چې دغه سفر به بيا هم د هند او پاکستان د سياليو قرباني شي يا دا، چې دا ځل به پاکستان رښتونى و اوسي او افغان لورى به ډک لاس هېواد ته ستون شي؟

که په لومړي سر کې د سولې عالي شورا جوړښت ته پام وشي پدغې شورا کې د ولسمشر کرزي له لوري داسې کسان ګمارل شوي، چې ډېرى برخه يې له وسله والو طالبانو سره د مخامخ جګړې سابقه لري؛ د دغو کسانو ښه بېلګه د يادې شورا پخوانى مشر استاد برهان الدين رباني او اوس مهال د ده زوى صلاح الدين رباني، حاجي محمد محقق، عبدالرب رسول سياف، سيد منصور نادري، قاضي محمد امين وقاد ... او يو شمېر نور دي.

د سولې عالي شورا په لومړني پيغام کې، چې د ۱۳۸۹ کال د تلې مياشتې په ۲۸ نېټه خپور شوى راغلي: "د سولې عالي شورا په افغانستان کې له ښکېلو اړخونو څخه غواړي چې د خپلمنځي اختلافاتو او ټکرونو په له مينځه وړلو کې له تاوتريخوالي لاس واخلي او د سولې عالي شورا په مينځګړيتوب د ستونزو سوله ييزې لارې ولټوي. دغه شورا د افغانستان له حکومت او د حکومت له مخالفينو څخه غواړي چې د سولې له بهير سره هر راز مرسته او د دې شورا له نوښتونو څخه ملاتړ وکړي. د سولې عالي شورا غواړي چې په ملي او سيمه ايزه کچه د افغانستان د ستونزو د حل لپاره د خبرو اترو لار پرانيزي."

خو تر ډېره بريده دغې شورا خپله اصله دنده، چې په دغه پيغام کې هم ترې يادونه شوې او هغه د افغان حکومت او وسله والو مخالفينو ترمنځ منځګړيتوب دى هېره کړې او په خواشيني سره، چې د دغې شورا کړنې داسې دي، چې خپله د وسله والو مخالفينو په مقابل لوري بدله شوې ده.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پاکستان به هغه مهال په ربښتوني توګه د سولې په خبرو اترو کې له افغان دولت سره همکاري وکړي، چې د دغه هېواد غوښتني ومنل شي. پاکستان په افغانستان کې د هند د نفوذ د کموالي، له پاکستان سره په پوله پرتو ولایتونو کې د هند د کنسلګریو بندېدل او د هغه خنډ له منځه تلل غواړي، چې د افغانستان په خاوره کې د هند له لوري پاکستان رامنځ ته شوی دی. پاکستان (پوځ او ځارګره اداره آی اس آي) د هند ځارګره اداره (را) تورنوي، چې په افغانستان کې د پاکستان ضد عناصرو او بلوڅ ملتپالو څخه ملاتړ کوي. همدا راز پاکستان ادعا لري، چې پدغه هېواد کې چاودني او بریدونه د افغانستان په خاوره کې د هند د ځارګرې ادارې له لوري تنظیمېږي. خو دا ټول هغه څه دي، چې د افغان دولت او هند له لوري په کلکه رد شوي دي او یوازې د پاکستان ادعا په توګه پاتې شوي، حتی پاکستان پدې اړه اسناد شواهد هم نه لري او که چېرې ویې لري هم، نو تر دې مهاله یې وړاندې کړي نه دي.

بل لور ته هند افغانستان ته د مرستو په ورکولو هڅه کوي، څو خپل نفوذ پراخ او د پاکستان دریځ کمزوری کړي، چې په تېرو یولسو کلونو کې له افغانستان سره د هند د مرستو کچه له دوو ملیاردو ډالرو اوړي. هند هڅه کوي، څو پاکستان ته په افغانستان کې ماتې ورکړي؛ هغه څه، چې د پاکستاني پوځیانو جدي غبرګون له ځانه سره لري.

د افغان دولت کمزوري بهرني سیاست له امله په تېر یولسو کلونو کې د هېواد ملي ګټې د هند او پاکستان په ګډون د ګڼو نورو هېوادونو د سیالیو قرباني شوي دي. کله، چې افغانستان ته د هند یوه لوړپوړي چارواکي سفر کړی ورسره جوخت پاکستاني چارواکي هم راغلي دي، چې نه یو توانېدلی له یوه څخه هم په سمه توګه ګټه پورته کړو.

پاکستان ته سولې عالي شورا پلاوي له سفر سره جوخت په اسلام آباد کې د افغانستان سفیر ښاغلی داوودزی د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت له لوري د دې لپاره غوښتل شوی، چې د افغانستان له خاورې د ډیورنډ کرښې هاخوا برید شوی دی، چې دا خپله پر دغه سفر منفي اغېز درلودی شي.

همدا راز له هندي رسنیو سره د ولسمشر کرزي څرګندوني هم کولای شي اسلام آباد ته د ښاغلي رباني سفر تر خپل اغېز لاندې راولي.

پورتنیو ټکو ته په پام سره ویلای شو؛ که چېرې په افغانستان کې د پاکستان ګټې خوندي شي او پدې تړاو پاکستان ته تضمین ورکړل شي، نو شوني ده، چې دغه سفر دې مثبتې پایلې له ځانه سره ولري، لدې پرته به بیا هم پاکستان د پخوا په څېر له خپل دوه مخي سیاست څخه په کار اخیستلو نه یوازې د سولې له لړۍ سره به مرسته و نه کړي؛ بلکې په هېواد کې به د زیاتو نا آرامیو لامل هم شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ